




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پرونے

رابعه ممتاز

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ټول حقونه په حق د ليکوالې کښې محفوظ دي)

د کتاب نوم ———— پرونې
ليکواله ———— رابعه ممتاز
د چاپ کال ———— ۲۰۰۴ء
پريس ———— جدون پريس خيبر بازار پېښور
بيعه ———— ۱۰۰ روپۍ
کاتب ———— محمد رسول پښتو اکيډمي

## د موندلو درک

۱- يونيورسټي بک ايجنسي
خيبر بازار پېښور
۲- بمعرفت عبدالله جان مغموم
ډاکخانه شاهين ټاؤن
يونيورسټي روډ پېښور

د کور فون نمبر : ۵۷۰۳۳۶۹

# "دُعا"

دَ حیا د رڼاګانو ترجمانه
دَ پړونو پړاوُنو نګهبانه

دَ مغموم صاحب تیارهٔ تیارهٔ کاله کښې
یو څو یوه ده خدائے دې تل لري روښانه

سید صابر شاه صابرؔ
برتهکال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پړونی

په جنازه مې سپين پړونی خور کړئ
زۀ څو له کوره بې پړونې نۀ ځم

---

زما د مينې قاتل کړځې سر تور
زۀ په پړونې هر وخت مخ پټوم

---

دَ بد نامۍ داغ به راپورې کړي تا
پام چې پړونې له مې لاس راوُنۀ ځي

---

کله مې تور کله مې سپين پړونی
ستا د نظر نه داسې ځان پټوم

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| شمېر | لیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | پېرونې — عبدالله جان مغموم | ۹ |
| ۲ | مننه — رابعه ممتاز | ۱۳ |
| ۳ | خانه کعبه (نظم) | ۱۶ |
| ۴ | ځم د مدینې نه نن (نعت) | ۱۸ |
| ۵ | د حوا لوُر (نظم) | ۲۰ |
| ۶ | بیا د اوښکو زور دے تپوس مهٔ کوه (غزل) | ۲۳ |
| ۷ | په تورو نیمو شپو کښې دید نونه څومره کړې (غزل) | ۲۴ |
| ۸ | راشه اشنا عمر مې کم دے | ۲۵ |
| ۹ | د خپل کلي خړ کورونه (نظم) | ۲۶ |
| ۱۰ | مشران (نظم) | ۲۹ |
| ۱۱ | زما زړهٔ مات که کاسه ده (غزل) | ۳۰ |
| ۱۲ | مخ چې رانه پټ نهٔ کړې خطا نشې (غزل) | ۳۲ |
| ۱۳ | ستا د غمونو سره لوبې کوم ( 〃 ) | ۳۳ |
| ۱۴ | دا ستا د راتلو لارې کله ښې ډېرې روږدې شي (غزل) | ۳۴ |
| ۱۵ | نوې دُنیا (نظم) | ۳۶ |
| ۱۶ | ستا د مینې مشال لاس کښې (غزل) | ۳۸ |
| ۱۷ | زړهٔ مې هر وخت چې دوبېږي (غزل) | ۴۰ |
| ۱۸ | تمغهٔ امتیاز دې مبارک شه (نظم) | ۴۲ |

| | | |
|---|---|---|
| 19 | نهٔ به د باران نهٔ د بڼلی نهٔ د سیلی قیصې | ٥٥ |
| ٢٠ | خپل قسمت نه خبر نهٔ وم (غزل) | ٥٦ |
| ٢١ | قسمت (نظم) | ٥٨ |
| ٢٢ | خیالونه وسوسې (نظم) | ٥٠ |
| ٢٣ | تاله به لالیه په لیمو درشم (غزل) | ٥٣ |
| ٢٤ | کور د بیلتون خورشه دا ئې څهٔ اوکړهٔ (غزل) | ٥٤ |
| ٢٥ | د ګلو لخته | ٥٦ |
| ٢٦ | مانه خو په سترګو اشارو خبرې مهٔ کوه | ٥٧ |
| ٢٧ | رور (نظم) | ٥٨ |
| ٢٨ | زړهٔ مې د ے د غوبنې څهٔ د کانې نه خو جوړ نهٔ دے | ٦٠ |
| ٢٩ | ستا د مینې د درېو تېکو په تلا کښې یمه ناسته (غزل) | ٦١ |
| ٣٠ | د رختن ورځ (نظم) | ٦٢ |
| ٣١ | ستا مینه مې پکار ده نور مې هیڅ نهٔ دي پکار (غزل) | ٦٣ |
| ٣٢ | د آسمان لمنې سرې شوې (غزل) | ٦٤ |
| ٣٣ | په هر څهٔ به تېرېږې دنیک خوا کمے دې نهٔ وي | ٦٦ |
| ٣٤ | وارخطا وارخطا ګرځم (غزل) | ٦٧ |
| ٣٥ | خپل خپلوان (نظم) | ٦٨ |
| ٣٦ | لوپټه | ٧٠ |
| ٣٧ | خط | ٧١ |
| ٣٨ | د ژوند جونګړه کښې ویرېږه مه زړهٔ (غزل) | ٧٢ |
| ٣٩ | زما د زړهٔ په آئینه کښې تهٔ ئې | ٧٤ |


(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۴۰ | ښځې خلق (نظم) | ۷۵ |
| ۴۱ | شته په سپرلي کښې ډېر ګلونه شته دے | ۷۶ |
| ۴۲ | ته چې پکښې نه يې اشنا زه په خلقو څه کوم | ۷۷ |
| ۴۳ | مور (نظم) | ۷۸ |
| ۴۴ | د ښو د سر د پاسه (غزل) | ۸۱ |
| ۴۵ | نن د ياران شپه روښده شوه جوړې (غزل) | ۸۲ |
| ۴۶ | ښه اخلاق (نظم) | ۸۳ |
| ۴۷ | په ليمو باندې راواوړې (غزل) | ۸۴ |
| ۴۸ | ګيله دې په سر سترګو دې ګيلې سره به ګو رو | ۸۶ |
| ۴۹ | ستا مينه لاليه دروغژنه شوه (غزل) | ۸۷ |
| ۵۰ | لوړ (نظم) | ۸۸ |
| ۵۱ | شپه د انتظار (نظم) | ۹۰ |
| ۵۲ | لوبه (نظم) | ۹۴ |
| ۵۳ | لوبه (نظم) | ۹۶ |
| ۵۴ | فرياد (نظم) | ۹۸ |
| ۵۵ | شاهيت (نظم) | ۱۰۰ |
| ۵۶ | يادونه اميدونه (نظم) | ۱۰۳ |
| ۵۷ | پښتون (نظم) | ۱۰۴ |
| ۵۸ | نصيحت (نظم) | ۱۰۶ |
| ۵۹ | مينه چې پيدا شي فنا کيږي نه (غزل) | ۱۰۸ |
| ۶۰ | تا چې په سترګو کښې تېره کړه (غزل) | ۱۰۹ |
| ۶۱ | مينه (نظم) | ۱۱۰ |

| | | |
|---|---|---|
| ۶۲ | ستا د کبر انتها ده تهٔ پوهٔ نهٔ یې (غزل) | ۱۱۱ |
| ۶۳ | دا چمن (نظم) | ۱۱۲ |
| ۶۴ | کیله (نظم) | ۱۵ |
| ۶۵ | بېګاه مې د آسمان ستوري په چپه خوله شمېرل (غزل) | ۱۱۸ |
| ۶۶ | زوې مورته (نظم) | ۱۱۹ |
| ۶۷ | د ژوند په دې کتاب کښې نخښه کوم یو ځاۓ کښې کېږدم | ۱۲۱ |
| ۶۸ | خبره ستا د مینې د هر چا نه زهٔ پټومه (غزل) | ۱۲۲ |
| ۶۹ | په هر طرف چې ځې نو زهٔ به ستا د لاس همساشم (غزل) | ۱۲۳ |
| ۷۰ | خواره زندګي شوه په غمونو په فکرونو (غزل) | ۱۲۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# "پروني"

د رابعه ممتاز د شاعرۍ دویم کتاب "پروني" ستاسو په وړاندې دے - حقیقت دا دے چې د ممتاز د "سپیلني" کتاب شاعرۍ که هر څو فني کمزورۍ لرلې خو د دې خبرې نه انکار نۀ شي کېدے چې لوستونکو د فني کمزورو باوجود د سپیلني شاعرۍ ډېره خوښه کړه او کتاب ئې په ډېره مینه واخستو او ووې لوستو - د رابعه ممتاز دویم کتاب "پروني" لکه چې د نوم او چاپ په لحاظ ښکلے دے - د غسې ئې شاعري هم ښکلې ده - زما په خیال چې دې کتاب کښې شاعرې د لوستونکو د اعتراض ډېر خیال ساتلے دے او کوشش ئې کړے دے چې هر یو شعر دې په ناپ تول پوره وي -

د "پروني" شاعري په هر لحاظ سره د "سپیلني" د شاعرۍ په مقابله کښې په ناپ تول پوره ده - په غزلونو کښې نوي خیالات - نوي جذبات او نوې استعارې استعمال کړے شوي دي او کوشش په کښې دا شوے دے چې د "پروني" په شاعرۍ کښې جدت را پیدا شي - او رابعه ممتاز په خپل دې مقصد کښې تر ډېره حده پورې کامیابه شوې ده - د جدت سره سره د پښتني ماحول خیال هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتلے شوے دے۔ د مثال په طور دا شعرونه به ئې واخلو۔

ے چې لوړ د پوال ته خپل ځي نوښکارېږي به دلوړي
په دې پښتو د پوالونو د راز خبرې ښې شي

یا

ے د مینې سوال جواب چې د دېوال د پاسه روشي
کۀ خو وې که کچه وې دېوالونه څومره نونه کړي

دېوالونه د پښتنې کلچر یو اهم جُز دے او بیا کچه دېوالونه خو ...... د پښتو نخوا د لاروکوڅو اصلي نقشه راکاږي۔ ممتاز په خپلې شاعرۍ کښې د پښتو ژبې دود دستور او دَ لفظونو د استعمال ډېر خیال ساتلے دے او زما په خیال چې دا دَ دې خبرې ثبوت دے. چې د "سپېلنې" نه پس شاعرۍ کوشش کړے دے چې د "پړونې" شاعرۍ د فن هغه ټولې تقاضې پوره کړي -چې دَ کومو په حقله به اکثرو لوستونکو دا اعتراض کولو چې د سپېلنې شاعرۍ کښې فنې کمزورۍ دي۔

زما په خیال چې د "پړونې" په لوستو به دَ لوستونکو دا ګیله تر ډېره حده پورې ورکه شي دلته به زۀ د لوستونکو د تسلۍ دَ پاره د رابعه ممتاز د مختلفو غزلونو نه یو څو شعرونه پېش کړم۔

۱۔ ے دا مۀ وایه چې زۀ ستا په خبر و نۀ پوهېږم
په تته تته ژبه دا رازونه څومره نونه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د جونګړې لوګے ښنهٔ دے
زهٔ يې اوښکو سره مل کړم
محو ته به زهٔ څهٔ کړم
چې زهٔ يم پکښې پرېشانه

۳- د ښکلو د ښار نګاهې اورې
د سترګو يې خبر نهٔ شو
آ زما ساده جانان چې
په کوم جهان کښې اوسيږي

۴- ما په کودر څک منګے بيا کېښو دو
ستا د شملې ول راته ښکارېږي نه

د غزل نه پس د ممتاز د نظم په ميدان کښې تګ هم دَدې د شاعرئ د پوخ والي دليل ورکوي - حقيقت دا دے چې څنې څنې نظمونه نې د خيالاتو او جذباتو په لحاظ زهٔ شاهکار ګڼم - لکه " لوېتهٔ " " پښتون " " قسمت "

د څپن کلي نې کورونه او داسې نور ډېر نظمونه چې ملي شاعرانو به دا موضوعات چېړلي وې - بهرحال د رابعه ممتاز دويم کتاب " پړونے " ستاسو په مخکښې دے او ورسره د څپن دريم کتاب " ګلونه پاتې پاتې " د ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



زر د چاپ کولو اراده هم لري ـ خدای دې اوکړي چې دَ رابعه ممتاز دریم کتاب هم ډېر زر چاپ شي او دَ پښتو په شاعري کښې دَ یو بل نوي کتاب اضافه اوشي ـ

والسلام

عبدالله جان مغموم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# منته

ما چې خپل اولنے کتاب "سپېلنۍ" چاپ کولو نو دا اُمید مې نهٔ وُ چې پښتانهٔ رونړه خوښېدې به زما دَ کتاب سره دومره مینه اوکړي - خو زهٔ دَ پښتنو رونړو خوښند و ډېره منند کوم چې رونړو عموماً او خوښند و خصوصاً زما کتاب په ډېره مینه واخستو او وې لوستلو او زما دومره حوصله افزائي ئې اوکړه چې نن دا دے زهٔ خپل دویم کتاب "پړونے" په دې ځاے چاپ کوم چې رونړه خوښندې به دَ "پړونې" سره هم دومره مینه اوکړي لکه څومره ئې چې د "سپېلنۍ" سره کړې وه - او زهٔ به ددې جوګه شم چې خپل دریم کتاب "ګلونه پاڼې پاڼې" چاپ کولو ته ملا اوتړم -

زما د اولني کتاب "سپېلنۍ" په لوستونکو کښې دَ خوښند و شمېر زیات وُ او زما په خیال چې په دغه کتاب کښې زما زیاته شاعري دَ خوښند و میاند و سره د تړلو مسئلو او کشالو په حقله وه نو ځکه په کښ شمېر کښې خوښندو کتاب واخستو او وې لوستو او په دې رنګ ئې د کتاب عزت افزائي او زما حوصله افزائي اوکړه د "سپېلنۍ" د شاعر په حقله ځنې رونړو دا رائې څرګنده کړې ده چې ځنې شعرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فن تقاضې نهٔ پوره کوي . خو ما دې رونړو ته دا دلیل وړاندې کړے وُ چې زهٔ دَ شعر د فني تقاضو نه زیات مقصد له اهمیت ورکوم په دې وجه مې فني کمزورو ته زیات خیال نهٔ وُ ورکړے . کېدے شي چې اعتراض کونکو رونړو زما دا دلیل نهٔ وي خوښ کړے نو په دې وجه دې حَل د "پرونې" په شاعرۍ کښې مې د مقصد سره سره د فني تقاضو هم خیال ساتلے دے او طمعه لرم چې د لوستونکو دا ګیله به ورکه شي "پرونے" هم زما غزلونو او نظمونو مجموعه ده . په نظمونو کښې زما خوښ موضوعات کلے کور . نغرے او جارګے دي . او یا مې لُور، خور، مور او زامن دي . په اکثرو نظمونو کښې ما دغه کردارونه د موقعې په مناسبت سره ستائیلي یا کنلي دي . خو ستائنه په کښې زیاته او غندنه په کښې کمه ده .

ما په خپله شاعرۍ کښې مینې له اهمیت ورکړے دے او کوشش مې کړے دے ( هغه د پیر ګوهر یو نظم دے ) زهٔ غواړمه چې تول دنیا مینه مینه شي " چې د مینې پیغام هرچا ته اورسوم او د هر لوستونکي په زړهٔ کښې دَ مینې دا پیغام ځائے اونیسي .

د لوئے خدائے نه دا طمعه لرم چې پښتانهٔ رونړه خوښندې به د "پرونې" سره هم دومره مینه اوکړي لکه چې د "سپېلنې" کتاب سره ئې کړې ده او زما به دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



حوصله افزائي وکړي چې خپل دریم کتاب "ګلونه پاڼې پاڼې" هم زر تر زره چاپ کړم -
انشاء الله

رابعه ممتاز

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خانه کعبه

د الله کورې تاوېږم له تا
خانه کعبه ې زارېږم له تا

د الله کوره ارمان مې ته وي
او د خون زړګي درمان مې ته وي

لکه ګل هسې غوړېږم په تا
د الله کورې تاوېږم له تا

د الله کوره سودا مې ده ډېره
درنه تاوېږم ګناه مې ده ډېره

لکه د شمعې ژړېږم په تا
د الله کورې تاوېږم له تا

د الله کوره عزت دې ډېر دے
په ټول جهان کښې شهرت دې ډېر دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه د پرخې ورېږم به تا
د الله کورې تاوېږم لهٔ تا

ارمان مې نشته ددې نه سېوا
چې بس راځمه مکې ته بیابیا

چې هر چکر کښې ځارېږم لهٔ تا
د الله کورې تاوېږم لهٔ تا

بنار د مکّې به هېرومه څنګه
د باقي ژوند به تېرومه څنګه

ممتاز به څنګه صبرېږم لهٔ تا
د الله کورې تاوېږم لهٔ تا

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نعت

## د مدینې منورې نه د رخصتۍ په وخت

# ځم د مدینې نه نن

دا سپې راته ښکاري زړهٔ مې بېل شو د سینې نه نن
ځم د مدینې نه نن

څومره موده ما په دغه طمعه تېره کړې وه
شپه ورځ مې یو کړې وه
ډېره وارخطا شوم چې خبر شوم دې ښتې نه نن
ځم د مدینې نه نن

زهٔ خو د مودو نه د راتلو په طمعه ناسته وم
هر غم نه زهٔ خلاصه وم
څنګه به ځان صبر کړم د دې خوږې قصې نه نن
ځم د مدینې نه نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما خو د نبي صلی الله علیه وآله وسلم دربار کښې لنډۍ ورځې تېرې کړې
څو ورځې مې ستړې کړې
داسې راته ښکاري تږې هم ددې چینې سنه نن
هم د مدینې سنه نن

ماوې چې نبي صلی الله علیه وآله وسلم به د زړهٔ حالونه وائمه
شپه ورځ به ښکیا یمه
زړهٔ مې د ډېر خوږېږي چې زهٔ هم پاکې روضې سته نن
هم د مدینې سنه نن

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَحوا لوَر

ستا لقب دَ فرشتو دے
په جنت کښې ته پیدا ئې
ته خوا هش د بابادم وې
په نامه باندې حوا ئې

ستا د پښو لاندې جنت دے
نیک اولاد له لوئے نعمت دے
ته ریشتیاء چې بې بها ئې
په نامه باندې حوا ئې

که ته لورئې نو رحمت ئې
که ته خورئې نو راحت ئې
د خاوند د کور رڼا ئې
په نامه باندې حوا ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځېل کور ئې څوکيداره
دَ بچو ئې ته غمخواره
هر بچي باندې فدا ئې
په نامه باندې حوا ئې

دَ انسانانو په تخليق کښې
ځان سره کړې خدائے شامله
په رضا د خدائے رضا ئې
په نامه باندې حوا ئې

چې ستا کور پرې آباديږي
مال او سر دې که زاريږي
ته د صبر انتها ئې
په نامه باندې حوا ئې

هغه کور گل و گلزار شي
چې ستا په کښې روزگار شي
ته د خوږ زړگي شفا ئې
په نامه باندې حوا ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره سخته تېره وي ښه
څو نېټ کور اباد وي ته
ته د صبر انتها ئې
په نامه باندې حوا ئې

د کور چې څه بامبېر وي
که هر څومره په تا ډېر وي
په خندا ئې ته ښکلا ئې
په نامه باندې حوا ئې

په تخليق کښې د انسان
خدائ ستا واخست امتحان
په رضا د خدائ رضا ئې
په نامه باندې حوا ئې

ممتاز داسې کار اونه شي
ستا نامه بدنامه نه شي
ته ساده د دې دنيا ئې
په نامه باندې حوا ئې

ځان ساته له هره توره — د دنيا د هر پېغوره
همېشې ولې وار خطا ئې — په نامه باندې حوا ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

23

بیا د اوبښکو زور دے تپوس مهٔ کوه
وران مې د زړهٔ کور دے تپوس مهٔ کوه

تول بدن لوګے شو لمبه نهٔ شو مه
دالاختګه اور دے تپوس مهٔ کوه

تهٔ ئې چې بېګا سبا کتو له تلې
هغه محفل خور دے تپوس مهٔ کوه

سترګې مې په ډېرې ژړا سرې شوې
ورک د کلو تور دے تپوس مهٔ کوه

مهٔ ګرځه ممتاز پسې بیا مهٔ ګرځه
هر څوک ترې مرور دے تپوس مهٔ کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 24

په تورو تیمو شپو کښې دیدنو نه څو مره خوند کړي
یو بل سره چې روشي - الوظو نه څو مره خوند کړي

دا مهٔ وایه چې ستا په دې خبرو زهٔ پوې نهٔ شوم
په تشه پسته ژبه بیانونه څو مره خوند کړي

د مینې سوال جواب چې د یو بل سره پرې روشي
که خږ دي که کچه دي د پوالونه څو مره خوند کړي

زموږ د محبت قصه هم د لته تر پوره شه
زهٔ ستا یم تهٔ زما یې دا قولونه څو مره خوند کړي

ارمان چې هغه تېر ساعت څو بیا په بېرته راشي
د مینې د کتاب ذا پړهٔ بابونه څو مره خوند کړي

ممتاز په محبت کښې تا نه دوستو پاتې نهٔ شي
د رځه د وفا لار کښې منزلونه څو مره خوند کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 25

راشه آشنا عمر مې کم دے راشه
د زړهٔ دنیا کښې مې تورتم دے راشه

ما خو چېل زړهٔ په تسلّو اوده کړو
خو په ژړا دسترګو نم دے راشه

ن چې مُسکے راته له ورایه شولې
د تندی ئیک مې جوړې سم دے راشه

آسمان کښې ستورې په خندا شو ګُله
زما په زړهٔ کښې خو ماتم دے راشه

ممتاز زړګے مې په سلګو اوده شو
حُکه د رزارے ئې لږ کم دے راشه

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د چیل کلي خړ کورونه

نن مې بیا په زړه وربړي ، د خپل کلي خړ کورونه
هغه کړې وړې لارې ، هغه بر کوز مالتونه

اودېر د امان په خوا کښې ، مونږه لوبې به کولې
نه په مونږ د چا اواز وه ، نه زمونږ په چا خڅ کار وه

مور و پلار به تپوس نکړو ، چې ته کوم ځائې ئې ولاړه
د اجمات دے که حجره ده ، چلن لاړه ده که ښاره

هر یو کور کښې به ماما وه ، هر یو کور کښې به ببو وه
د اټول کلے یو کور وه ، د اټول کلے رور او خور وه

که به چا کره ښادي وه ، د ټول کلي خوشحالي وه
که به چا کره څه غم وه ، هر یو کس به سترګې نم وه

که به جنګ وه که جهګړه ، یا به بل څه مسئله وه
مشران به ټول راټول شو ، د هغو به فیصله وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کشران به يې ملامت کړه ، پوهٔ به ئې دوئ په هر صورت کړه
روغه جوړه به په زر او شوه ، دښمني به پاتې نهٔ شوه

مسافر که به څوک راغلو ، چې به ئې کلي کښې خپل نو وه
د حجرې تپوس به يې او کړو ، بيا به هلته کښې ميلمه وه

د هر چا به دغه فرض وه ، چې دے او بے پاتې نهٔ شي
کهٔ وي پيان او که ښملي وي ، ميلمستيا دې د دهٔ او شي

کله کله به مې پلار هم ، کور ته راغلو په تلوار هم
چې جمات کښې مسافر دے ، چې راغلے د سفر دے

بندوبست د ډوډۍ او کړئ ، څه پاخهٔ کړئ څه تود کړئ
کوري او بے پاتې نهٔ شي ، زمونږ کلے به ئې خوښ نشي

نهٔ کوربه خفه کېدلو ، نهٔ ميلمه به شرمېدلو
ډېره مينه ډېر عزت وه ، د خلوص نږدې الفت وه

نن مې بيا په زړهٔ ورېږي
د خپل کلي خبرې کورونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما هغه وخت یادیږي ، هغه خلق مې یادیږي
هغه خلق چرته لاړل ، هاغه خړ کورونه وران شول

څهٔ بنګلي شوي خړ کورونه ، د پخو خښتو برجوسته
آ کچه لارې پخې شوې ، ده چا بیلې کوڅې شوې

دیوبل نه ځان اونغاړي ، خپل غمخو ځان له ژاړي
ده چا شو ډېر کاروته ، ده چا شو بیل کورونه

نهٔ د ورور خور محبت شته ، نهٔ د پلار مور خو عزت شته
په نفرت هر چا ته ګوري ، ده چا نه دوئ مرور وي

هر یو کس د بل نه تنګ دے ، خپل پردي سره په جنګ دے
زما دوئ ته زړهٔ تنګیږي ، زما خپل کلے یادیږي

زما هغه وخت یادیږي ، زما هاغه خلق یادیږي
خدایه دا څنګه ژوندون دے ، هر یو کس د ځان نه تنګ دے
ممتاز داسې ځان ځاني شوه
په ژړا هم سود نهٔ کیږي
نن مې بیا په زړهٔ وریږي
د خپل کلي خړ کوروسته

***

(c) ketabton.com: The Digital Library


# مشران

چې زمونږ مشران وو هغه څه شو
د دې کلي چې زبرګان وو هغه څه شو

چې بې شانه مينه يې مونږ سره کوله
چې په مونږ به دېر ګران وو هغه څه شو

مشکلې چې به يې زمونږ حل کولې
نن هر کار ته مونږ حېران يو هغه څه شو

چې د هر غريب د پاره مور و پلار وو
چې د ټول کلي خپلوان وو هغه څه شو

ممتان مونږ به چاله څه تسلّي ورکړو
مونږ خپله دېر پرېشان يو هغه څه شو

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

# 30

زما زړهٔ ماته کاسه ده
پرتې لور په لور ټوټې دي

د دردونو د غمونو
څهٔ غمژنې شان قصې دي
کله صبر کله اوښکې
ننداره دَ زړهٔ کوُمه

څهٔ پرېشانه دي وختونه
څهٔ پرېشانه ورځې شپې دي

دا د اوښکو سېلابونه
حوصلې به مې لاهو کړي

په علاج ئې نهٔ پوهېږم
د ژوند سختې مرحلې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# 31

ستا دمینې مشال لاس کښې
په تیرو کښې یم روانه

تا به کوم ځائے کښې پیدا کړم
اے زما خوږه جانانه

خدائے د زړونو خبردار دے
ته دې نه خبر نهٔ یې

زهٔ به تا لهٔ خدایه غواړم
اے زما یاره نادانه

د حبونګړې لوبې ښهٔ دے
زهٔ یې اوښکو سره مل کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ چې را نه پټ نهٔ کړې خطا نشې
مړه به شم د غمه بې وفا نشې

ته خو زما زړهٔ یې زما مینه یې
پام کوه جانیه د بل چا نشې

ستا په وعدو بیا دلته راغلے یم
هسې نه پرون پښانې رانشې

ستا د غمونو سره لوبې کوم
مړاوو ګلونو سره لوبې کوم

ستا د راتلو په انتظار کښې ګُله
ډېرو فکرونو سره لوبې کوم

بې د غمونو چې نور هېڅ نه لري
داسې بختونو سره لوبې کوم

د خپل زړګي د تسلی د پاره
ستړو وختونو سره لوبې کوم

د بېلتانه په تورو شپو کښې ممتاز
د زړه زخمونو سره لوبې کوم

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ستا دَ راتلو لارې ګلګښتې دېرې اوږدې شي
چې نهٔ دې سوال جواب وي نهٔ راتګ دې بیا پېدې شي

دا څنګه محبت دے ټول زما د پاره خواست دے
اول دې خدائے نه غواړم بیا رهبار باندې جرګې شي

زهٔ جواب درلېږې نکړم ، ځانیه خپله راشه
زړهٔ مې تا نه ګیله من دې ځورګې مې ګیلې شي

چې لوړ دېوال ته خېژې نو ښکارېږې تې به دلرې
پهٔ دې چېتو دېوالونو دراز خبرې ښې شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځه چې د مودو ګیلې پخلا کړو هوارې
چې خندا خندا ژوندون شي رنګینې ورځې شپې شي

دا ستا خفګان په ځای دی، خو زما به هم لږ واورې
چې ته راشې زما خوا له نو یارې دې ګیلې شي؟

ممتاز درته وائي راځه چې صلح اوکړو
ستا مینه سیلانۍ ده په هر بنګلې مخ لېسې شي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوې دنیا

راځه چې دواړه ځان له یوه نوې دنیا جوړه کړو
دې دنیا نه لرې یوه ښکلې دنیا جوړه کړو

دې دنیا کښې هیڅ نشته غمونه دي فکرونه دي
دې دنیا کښې هیڅ نشته دردونه تکلیفونه دي

دلته مینه نشته خدائیګو خوشې هوسونه دي
دلته مینه نشته دلته خوشې مطلبونه دي

دلته څوک د مینې اصلیت نه هم خبر نهٔ دي
دا خو ځناور دي تهٔ به وې هیڅ بشر نهٔ دي

راځه چې دواړه ځان له یوه نوې دنیا جوړه کړو
دې دنیا نه لرې یوه بیله دنیا جوړه کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه داسې دنيا چې پکښې دواړه زړونه يو شي
يوه داسې دنيا چې پکښې دوه روحونه يو شي

هلته کښې به تهٔ او زهٔ د يو بل ځنې قربان شو
هلته کښې به مونږ د خپل خوږ زړونو درمان شو

راځه ممتاز چې دواړه يوه نوې دنيا جوړه کړو
دې دنيا نه لرې يوه ښکلې دنيا جوړه کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د مینې مشال لاس کښې
په تیرو کښې یم روانه

تا به کوم ځای کښې پیدا کړم
اې زما خوږه جانانه

خدای د زړونو خبردار دې
ته دې نه خبر نه یې

زه به تا له خدایه غواړم
اې زما یاره نادانه

د جونګړې لوښې ښه دې
زه یې اوښکو سره مل کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



محلونه به زهٔ څهٔ کړم
چې زهٔ یم پکښې پرېشانه

ممتاز ستا نصیب خراب دے
کهٔ تهٔ فکر ورته اوکړې

خپل جانان دې تپوس نهٔ کړی
ګیله مهٔ کړه د بل چا نه

*
***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذړه مې هر وختې ژوبېږي
هیڅ علاج يې نه ښکارېږي

دې خپل ژوند ته يم حيرانه
چې په څه سخته تيرېږي

ناکړدې دې چې رایاد کړم
دباران په شانې ژاړم

دغمونو په ګرداب کښې
مې د ژوند کشتۍ تاوېږي

بې حسي او بې قدري خو
اوس دخلقو کاروبار شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دنیا په دې بازار کښې
اوس هم د اسودا خرڅېږي

ستا یادونه زما زړه کښې
و آسمان له ستورو ډېر دي

ته خبر نه یې جانیه
زما زړه څومره خوږېږي.

ممتاز ټوله دنیا چاڼ کړه
یو همدرد یې پیدا نه کړو

چې غمونه ترېنه واخلي
داسې څوک نه پیدا کېږي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تمغهٔ امتیاز
# دِ مبارک شه

خپل خاوند عبدالله جان مغموم ته د تمغهٔ امتیاز په اخستو
د عقیدت پېرزوئنې ــــ (ممتاز)

اے د لوړ همّت انسانه
ستا همت ته مې سلام دے

اے په هر چا مهربانه
ستا عظمت ته مې سلام دے

ته یې کلي په وطن کښې
چې په ښهٔ نامه یادېږې

کهٔ دې دور کهٔ دې تربور دے
تهٔ د هر چا پکار یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ دکومې خاورې جوړې
تا کښې کبر غرور نشته

پهٔ دښتیا چې فرښته یې
ستا کښتو کښې ضرر نشته

چې هر ځائے کښې تهٔ ئې یادشوې
پهٔ تا فضل دالله دے

مبارک شه سلامت شه
دا آواز لهٔ هرې خوا دے

زهٔ غازي، شعیب ته کوم
خوشحالي نه پهٔ خندا دي

چې ضیاء مې هم کوشل شو
نعمتونه دالله دي

---

غازي، شعیب، ضیاء د زامنو نومونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکر او باسمه ډېر زه
خدای تعالیٰ ته په سجده شم

ټول غمونه راسنه هېر شي
په الله الله اخته شم

خوشحالي دې خدای نصیب کړه
اے زما د ژوند ملګریه

مبارک شه مبارک شه
د ممتاز د سر ټیکریه

خوېندو ورونو او بچو ته
دا اعزاز دې مبارک شه

ته لائق ددې اعزاز وې
دا امتیاز دې مبارک شه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 45

نهٔ به د باران نهٔ د ږلۍ نهٔ د سیلۍ قیصې
ما ته به ته نکړې اے اشنا د بې وسۍ قیصې

زهٔ به ستا خبرو ته بېګاه صبا غوږ غوږ شمه
ته که پکښې نهٔ کوې آشنا چرې پر دې قیصې

ما سره خو شپه ورځې داغم دے اے لالیه چې
هسې نه څوک اوکړې ستا زما د اشنا یۍ قیصې

یو ځلې به مونږ که هغه تېر وختونه بیا راشي
او به کړو یو بل ته د ځوانۍ او د مستۍ قیصې

مینه خو سور اور دے سرې لمبې دي زهٔ یې اوسو مه
ما سره خو نشته د خندا او خوشحالۍ قیصې

نن که چرې ژوند وه د هغه وعدهٔ رښتیا شوله
او به کړې ممتاز ته خو د مینې پخوانۍ قیصې

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 46

خپل قسمت نه خبر نهٔ وُم
چې به داسې خراب هم وي

چې آشنا به جُدا کېږي
ژوند به داسې عذاب هم وي

کهٔ پهٔ لنډو لارو لاړ شې
نو منزل ته نهٔ رسېږې

د پښتو ټولو پهٔ لار کښې
لختې هم وي اعراب هم وي

ستا تدبير به کار او نهٔ کړي
د تقدير مالک خو هم شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تندي ذکرښو ځان لـه
یو جوړ شوے کتاب هم وي

د خدائے ورکړه بې بها ده
ممتاز شک پکښې اونه کړې

د غریب عاجز نادار ه
په تندي کښې محراب هم وي

توکل په الله اوکړه
دا دوان شه د زړه سره

په دې ښکلو تورو سترګو کښې
ځلید ونکے مهتاب هم وي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قسمت

> هغه پېغله چې ډېره موده د يوُ په نامه ناسته وه - او بيا
> بل ته ورترغاړه کړې شوه - (ممتاز)

ستا په نامه ناسته اوس د بل شومه
زۀ ګکه ګوډې د ادل بدل شومه

اُوسوزه قسمت دلو نو اُوسوزه
څنګه رنګ په رنګ خاورې خجل شومه

زۀ پښه لوګے پښه لمبه شومه
زۀ چې د نصيب په اورجل بل شومه

تخت او بخت خو د واړه د خدائے لاس کښې دي
ستړے د دې ژوند د سخت مزل شومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره یوه وَرز دبېلې سخته وي
پانې پانې زهٔ لکه دګل شومه

ګرځم په خیالونو په سوچونو کښې
څنګه ناخبره زهٔ دبل شومه

کوبنې دقسمت ممتان ورانیږي نه
شومه زهٔ وادهٔ خوپهٔ کوم چل شومه

—***—

(c) ketabton.com: The Digital Library


# خیالونه وسوسې

یم په کومه هوا مسته
زړه په کوم خیال کښې روانه

د دنیا په دې بازار کښې
ناخبره د خپل ځانه

ماوې چې تل ځواني به وي
په رنګ رنګ خوشالي به وي

نه به غم نه به فریاد وي
هر یو کس به په زړه ښاد وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور پلار به وي خپلوان به وي
خوانږه شکلي دوستان به وي

هم به کور هم به مالت وي
ډېر به مينه محبت وي

خوږې رورو وخت تېرېږي
نو غمونه مې ډېرېږي

نه مې پلار او نه مې مور شته
نه مې رورشته نه مې خور شته

خونبدې رونه مې جدا دي
هغوئ ټول دبلبل چيا دي

تصوّر کښې مې کرځېږي
دبابا کور مې يادېږي

په خوبو نو کښې مې راشي
په ژړا مې شپه سبا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې نه پس به څه رڼا شي
دې نه پس به څه ښکلا شي

اوس د مرګ راسره غم دے
اوس مې خدایګو عمر کم دے

مستان خدائے دې عفه اوکړي
اوس خو هر وخت دا دُعا کوم

---★---

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټاله به لالیه په یمو درشم
ټاله به په غنو په اغزو درشم

ته د اختر میاشت یې ښتودې ته
ستا کتوله زه به په بلو درشم

ماته ښوائه خبر یې مه یادو
زه به هم بیا جانه په ګیلو درشم

ستا خفګان چې یاد کړمه پښېمانه شم
زه به اوس لالیه په جرګو درشم

ځان به په پړونې کښې راپټ کړمه
زه به دې دیدن له په پړدو درشم

ټا سره ممتاز چې وعده کړې ده
ټاله به د غنو په چپو درشم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کور دَ بېلتون خورشه دا ئې څهٔ اوکړهٔ
اوس مې دے دنیا کښې زړهٔ لګیږي نه

زهٔ دې پهٔ دیدن پسې رنځوره شوم
ستا د راتلو لاره چې لنډیږي نه

راشه د اختر ورځ به رنګینه شي
بې لهٔ تا نه زړهٔ مې خوشحالیږي نه

ماله چې راځې نو پهٔ رڼا راشه
تکو تورو شپو کښې دیدن کیږي نه

ما پهٔ کودر ډک منګے بیا کښېښودو
ستا دشملې وَل راته ښکاریږي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا زما خبرې دې اورې داورې
ویمه چې رباړ دې حصاریږي نه

زهٔ به دا ګیله درته بل وخت اوکړم
خدائیګو پهٔ ګیلو څوک خوشحالیږي نه

ماسم دمابنامه اُوربل خورکړلو
راشه پهٔ تیارهٔ کښې څوک ښکاریږي نه

کله وے درځم او کله نهٔ درځم
ښهٔ شوه چې مستار لیونی کیږي نه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ ګلو لښته

په لاره چې ټوله رپېږي کنه
پرېښله یواځې ده وېرېږي کنه

حیا نه ډکې سترګې سنهٔ او چټئ
مزکې ته ګوري چې شرمېږي کنه

د تور اوربل ګلان یې پټ کړهٔ دو رو
د رونړو خور ده بد نامېږي کنه

پهٔ سپینو لېچو یې بنګړي مزه که
دَ ګلو لښته ده ماتېږي کنه

پړونې یې تاؤ کړو له ځان نه ممتاز
کلی ده پاسنو کښې پټمېږي کنه

★★★

ماته نو په سترګو اشارو خبرې مکوه
ماته د چا مخکښې د ګیلو خبرې مکوه

هر څه چې ته وائې راته اووایه په ډاګه نن
بیا راته په لارو په کوڅو خبرې مکوه

ستا زما دوزګار دے ځان په دې باندې لږ پوې کړه ته
ما سره د خلقو د جرګو خبرې مکوه

اووایه په ډاګه نن چې هر څه ستا په زړه کښې دي
بیا د بڅوسو لاندې داوبو خبرې مکوه

ژوند خو زما ځیل دے په نښته باندې به ختم شي
ماته د دعا او د خیرو خبرې مکوه

زړه د ممتاز مخکښې په شپو شپو ژړلے شم
ماته د سلګو د اسویلو خبرې مکوه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دور

دا زما دستر ګو نور دے
دا زما د ابصر زوئ دے

په آباد د بابا کور دے دا زما د مینې دور دے
ما به غږ کښې لو بولو، ما به هر ځائے ګرځولو

دا زما د زړهٔ ټکور دے
دا زما د مینې دور دے

چرته دے خوشحال بابا لو، ما به هلته رسولو
په دنیا مې د مور کور دے، دا زما د مینې دور دے

دے چې لوئ شو لو عاقل شو
نو زما حق کښې جاهل شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس زمانه ئې ذرهٔ تور دے
دا زما د میـــنې دور دے

زما هم ترې ذرهٔ خفه شو دګېلې نه پس ګیله شو
چې بې وجې دے مرور دے، دا زما د مینې رور دے

دور د خور لوبه اسـره وي
خپل تبر کښې په داده وي

په اباد د بابا کور دے
دا زمـــــا د مینې رور دے

چې په یو غېږ کښې لوئې شوي
هغـــــه کلـــه جدا شوي

دشیطان هسې مخ تور دے
دا زما د میـــنې دور دے

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړهٔ مې دے د غوښې څهٔ د کاڼي نه جوړ نهٔ دے
ستا غمونو دل کړو اے لالیه نور د زور نهٔ دے

تهٔ خو زما ژوندئ زما زړهٔ ئې زما مینه ئې
څهٔ وائې زړګیه زړهٔ مې تا نه خدائیګو تور نهٔ دے

کله چې مې یاد شې تړ مې اوښکې مې له سترګو ځي
ما به پهٔ دې پوئ کړې ستا پهٔ مینه کښې خو اور نهٔ دے

تهٔ چې چرته خوښ ئې زهٔ به عمر تېر وم هلته
زهٔ به ستا رضا کړم جانان دې کښې څهٔ پېغور نهٔ دے

تهٔ چې د ممتاز سره د ټول عمر لوظونه کړې
دا دنیا فاني ده دلته ټول عمر له کور نهٔ دے

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د مینې د دریو ښکلو په قلا کښې یمه ناسته
شپه ورځ پکښې تېرومه د پردې خو بست نه یمه خلاصه

د آسمان ستورو ته ګورم، ستا په کتو به دوی پرقینږي
چانړ څومره بختور دي، درته ګوري بې وسواسه

ته چې کوم وطن کښې اوسې زما زړه به تا سره وي
ژوند مې تا سره تړلی ستا زما مینه ده راسته

ما د زړه کچکول کښې ایښې ستا د مینې خیراتونه
ښه ګزران په زما کیږي که یم ناسته که هم ملاسته

په سینه باندې به درشم ستا مقام که را معلوم شو
د ممتاز د ومره همت شته هسې نه چې ده ناراسته

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اختر ورځ

دا چې دې خُلې اختر وه څومره ښهٔ وه
چې راغلې مې دلبر وه څومره ښهٔ وه

ما د ژوند خوانې په واره قربان کړې
شپه شوقدر ورځ اختر وه څومره ښهٔ وه

مسافر اشنا چې راغلو زهٔ ډاډه وم
که به کور کډ به پهر وه څومره ښهٔ وه

ما په لېو به منګے راډکولو
دے چې ناست به په کودر وه څومره ښهٔ وه

د ممتاز لاس به ئې نیولے وه په مینه
څومره ښکلے ما زېګر وه څومره ښهٔ وه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا مينه مې پکار ده نور مې هيڅ نه دي پکار
دنيا دې ستا نصيب شي زما نشته په څه کار

بيګاه مې د آسمان ستوري په چپه خوله شمېرل
مطلب مې بل څه نه و ومه ستا په انتظار

هر څه رقيب وائي زه له تا کله صبرېږم
بس ته مې د زړه سرې نور په چا نه کړم اتبار

د مينې په يا غنچه کېنې مې يو ګل په تخينه کړے
اېږدم به ځاپه اوربل کېنې يا جوړوم به ترېنه هار

ستا مينې ممتاز خېل ړوند باندې ستوما نه کړه
يو ته زما پکار يې نور مې هيڅ نه دي پکار

(c) ketabton.com: The Digital Library



د آسمان لمنې سرې شوې
د ماښام تېږې خورېږي

ستا په طمعه یمه ناسته
شپه به څه رنګې تېرېږي

د راتلو تکل دې وکړه
چې وعده دې هېره نه شي

بې له تا د زړګي سره
په ما خدای ږګو څه چل کېږي

د سحر نه تر ماښامه
زما دغه بس یو غم وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې نه چې لوظه نهٔ شي
ستا اقرار دروغ ښکارېږي

د ممتاز به څو مره ژوند وي
چې ستا نور انتظار وکړي

بس روش خپل وطن ته راشه
زړهٔ مې تا پسې شوکېږي

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هرڅه به تېرېږي - د نېک نوا کمې دې نه وي
چې ذره دې پرې رغېږي - د اشنا کمې دې نه وي

د اکور دې اے جانیه - تل په تا باندې آباد وي
چې ته پکښې کوځېږې - د دنیا کمې دې نه وي

باغونه سره ګلونه دې همېش تروتازه وي
بلبل دې په چغار وي - د بورا کمې دې نه وي

دا ستورې د آسمان دې همېشه داسې پړقېږي
باران دې د رحمت وي - د برېښنا کمې دې نه وي

ما مه پرېږده یوا ځې اندېښنې را نه چاپېر شي
هر څو که خالق د پر وي - خو بس ستا کمې دې نه وي

ممتاز د پښتنې مېرمن - پرون بدنام مه شه
که ځوانه که زړه وي - د حیا کمې دې نه وي

وارخطا وارخطا ګرځم
سودائی شوم نهٔ پوهېږم

تهٔ پهٔ کومه دره لاړې
زهٔ پهٔ تا پسې ګرځېږم

ما پهٔ دې خبره پوې کړه
دَ اُلفت انجام به داوي

مینه اُور دے سُور انګار دے
زهٔ شپه ورځ پکښې سوزېږم

وُم کلونو ته پهٔ طمعه
دچمن مې ابیاری کړه

ګُل زما نصیب کښې نشته
زهٔ پهٔ دې باندې پوهېږم

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپل خپلوان

را ځئ خپلو خپلوانو چې نن ډېره مینه اوکړو
مرګ نه خو راروان دے ارمانونه به بیا اوکړو

چې ژاړو په یو بل پسې بیا روستو توبه څهٔ
په ژوند به تول یو ځائے شو دیدنونه به نهٔ اوکړو

هغه ورانې مسئلې او قصې به کړو راسمې
چې مونږ په یو ځائے کېږو لږ سوچونه به په اوکړو

منم چې څو ګیلې به مو وې زړونو کښې یو بل ته
یو ځل چې مخامخ شو نو کارونه به تول نهٔ کړو

د استاد زړهٔ خبره چې زما د پاره مرګ وهٔ
زما پوهے ګیله ده نو رنجګونه به په نهٔ کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځئ چې بیا یو ځاے شو د یو بل سره په مینه
ګیلې ماڼې به نۀ کړو حوصلې به ډېرې اوکړو

د ملک او قام د پاره د ښېګړې کار پکار دے
چې یاد شو په دنیا کښې تل بیں ونه به ډېر اوکړو

ممتاز د ځوانو خلقو به څنګه ښۀ مثل وُ
روبۀ په ډانګ بېلیږي نه ، نعره به دغه اوکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوپټه

تهٔ چې پهٔ سر لوپټه واچې ډېره ښهٔ ښکارېږې
پښتنې پېغلې د حیا یوه نمونه ښکارېږې

د بنګړو ډک لاس چې اوچت کړې سر دې پټ کړې ګلې
الله ګواه دے ماته سمه فرښته ښکارېږې

د پلار پهٔ مخکښې چې ګرځېږې لکه حوره چې یې
چې سر دې پټ وي دَ ورځو کښې ګلدسته ښکارېږې

د لوپټه خوسټا د سر ده څهٔ له ګورې ورته
پهٔ سر یې واچوې چې ښهٔ پټه پهٔ پرده ښکارېږې

شرم حیا دې ستا پهٔ خټه کښې اخلي وي بس
پهٔ دې خویونو به هر چا ته تهٔ درنه ښکارېږې

پهٔ سر دې واچو لوپټه ځان پکښې پټ کړه ګلې
ممتاز درزارشه ګوره څومره خو خشته ښکارېږې

★★★

# خط

ما ته دې په خط کښې خداۓ خبر چې څه ليکلي دي
هيڅ پرې نه پوهېږم چې دې څه رانه ويلي دي

که دا دې وي ليکلي چې ما پسې ژړېږه مه
دا خوشې خبرې خو ما ډېرې اورېدلې دي

ستا نصيحتونه زه پلو پورې تړل اوترم
ته چې را په ياد شې تړل مې هغه وخت شيندلي دي

خپل وطن ته راشه د جوارو ډوډۍ ډېره ده
ولې دې جانيه کړې بل ځاۓ اړولې دي

دا د ځوانۍ شپې ورځې به هيڅرې بيا رانشي
تا پسې مستان ډېر په سلګو سلګو ژړلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



○

د ژوند جونګړه کښې ويرېږمه زه
دا بې له تا وار خطا کېږمه زه

د هر ارمان ګرېوان شلېدلے وينم
که په محل کښې هم اوسېږمه زه

ما ته جوړه جوړه غمونه ښکاري
تا نه چې ګله جدا کېږمه زه

د قدردانو قدر دلته نشته
داسې وطن کښې حصارېږمه زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بلبلانو جالې مه ورانــوئ
په دې ګلانو خفه کېږمه زه

لالیه ماله ناګهانه راشه
په انتظار کښې دې کړېږمه زه

په ممتان هغه وخت قیامت وي جانه
تا نه چې څه وخت جدا کېږمه زه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د زړۀ په آئینه کښې ستۀ یې
د ژوند کتاب هرې صفحه کښې ستۀ یې

دا بې لتا څو ځان نیمګړې ګڼم
زما د ژوند هرې لمحه کښې تۀ یې

بغیر لتا به ژوندون څنګه تېروم
زما د زړۀ هرې حصّه کښې تۀ یې

زما د مینې امتحان اخلې ستۀ
زما د ژوند هرې قیصه کښې تۀ یې

ممتاز دې اوس د زړۀ پردو کښې پټ شه
چې رقیبانو نه پرده کښې ستۀ یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځینې خلق

کینه ور دي ذوَر ور دي ځُنې خلق
ډېر په کبر په غرور دي ځُنې خلق

چې په وينو د انسان هم نهٔ مړېږي
په دنیا کښې ځناور دي ځُنې خلق

چې دنیا څوک د عقبیٰ د سره زار کړي
ګوره څومره بختور دي ځُنې خلق

چې هر ګاه سبا د خدائے یاد کښې مشغول وي
خدائیګو هرچانه بهتر دي ځُنې خلق

ممتاز ته ورشه پخپله ئې ښخلا کړه
چې له تانه مرور دي ځُنې خلق

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



شته په سپرلي کښې ډېر ګلونه شته دے
خو ما د پاره ډېر غمونه شته دے

سپینې سپوږمۍ ځلکه میګے جوړې
ستا په زړګي کښې هم داغونه شته دے

دخپل اوربل دا پیچ وخم چې ګورم
د ومره قسمت کښې زما ولونه شته دے

ډېر ځوکنډ ونه خودې اوکړه جانانه
لا د ممتاز زړهٔ کښې شکونه شته دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته چې پکښې نه یې اشنا زه به خلقو څه کوم
سترګې مې ړندې شه زه به دغو سترګو څه کوم

ټوله شپه په طمعه یم سحر کښې سترګې پټې کړم
راشې راله خوب کښې زه به دغه راتلو څه کوم

زړه نه زړه ته لاروي ټول عالم راته هم دا وايي
تا په لار کښې پرېښوم زه د زړه به لارو څه کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مور

## په فکرونو او سوچونو کښې

اے زما لخت جګره
اے زما د زړګي سره

اے زما دَ سترګو توره
اے زما دَ زړهٔ ټکوره

چې ته نهٔ وې پیدا شوې
په نامه وې تش یاد شوې

زهٔ به ستا وُمه په طمعه
خلاصه وم له هر غمه

په خیال کښې په سوچونو کښې
ستا خاکه مې جوړوله

بس د مینې یو دنیا مې
په نظر کښې جوړ ولیده

تصور کښې مې لویو لے
په څنګل به مې ګرځولې

په سختو او تکلیفو نو
راغلې ته په خپل وختونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا خندا زما د پاره
بهارونه غوړېدل وو

ستا ژړا زما د پاره
کائنات شکوړېدل وو

ستا په سترګو به پو ښېدمه
په هر څوئ دې رسېدمه

ستا زما تر مېنځه ګله
څه عجیبه شان رشته وه

د فکرونو او سوچونو
یو عجیبه سلسله وه

چې بې وخته اوده نه شې
چرته اوبزے پاتې نه شې

هسې نه وي خوب درغلے
چرته کټ نه ې لوېدلے

څو چې لوے شوې د زړه سره
زه دې فکر کوم اوتره

هسې نه بهر ته لاړ شې
څه ضرر در ته پېښ نه شي

زما زړه کښې وسوسې وي
زما دغه اندېښنې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼې ته روس ښه عاقل ئې
هسې نه چې ناقابل ئې

خو په سپینه بڼه زوئ هم
مور ته هسې ماشوم ښکارې

زویه خدائ دې نګهبان شه
هر مشکل دې تل آسان شه

چې مور مړه شي ښځې پوئ شي
چې دنیا کښې بې اسرې شي

بیا د مور قبر ته ژاړي
شپه او ورځ بیا داسې وائي

مورې تا پسې خفه یم
په دنیا یواځې زه یم

خو مور اوس دنیا نه لاړه
رابه نه شي بیا دوباره

ممتاز روس به خفګان څه کړي
په تېر وخت به ارمان څه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښو د نسر دَ پاسه
بوج دا ښکو مې درښېږي

زهٔ د ځان نه خبرنهٔ یم
ترمې اوښکې مې څڅېږي

ستا دَ یو ترخې خبرې
زور مې دومره زړهٔ له ورشي

لکه څوک دغر دَ سرنه
چې پهٔ ځمکه راغورځېږي

دښنګرو شرنګار مې اوري
د سلګو مې خبرنهٔ شو

ا زما ساده جانان چې
پهٔ کوم جهان کښې اوسېږي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن د باران شپه اوږده شوه جوړې
د اوښکو لار په مخ خوره شوه جوړې

د تودو اوښکو زور کمیږي دو دو
دَ اُمید ونو شمع مړه شوه جوړې

نن به ورځم د یو تپوس د پاره
د محبت لاره کږه شوه جوړې

ویم چې د سین په چپو ځان لاهو کړم
ښکاري نصیب کښې مې تیاره شوه جوړې

ممتاز په هر چا ډېر اِعتبار کولو
ځکه خو هر څوانه خفه شوه جوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښهٔ اخلاق

لارې او کوټې درباندې ښې ښکارې
ته چې مشر کشر ته سلام کوې

نهٔ دې پهٔ دولت او نهٔ عزت کم شي
تهٔ چې پهٔ خوږه ژوله خوږ کلام کوې

ګرچې تهٔ پهٔ مزکه خو آسمان ې تهٔ
تهٔ چې د پردي خپل احترام کوې

تهٔ به دَ هر چا زړهٔ کښې اوسېږې تل
تهٔ چې ښهٔ خصلت پهٔ هر مقام کوې

زهٔ ممتاز له تا نه خفه کېږم نه
تهٔ خو نصیحت ما ته مدام کوې

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ لیمو باندي داواوړی
پهٔ ننګو اوښکې خوړې شي

پهٔ ګرېوانځ باران باران شي
پهٔ خولهٔ کښې مې راتوې شي

د زړهٔ پهٔ غم ښادېدهٔ کښې
ددې سترګو پوره لاس وي

کله خاندي به بې وازه
پهٔ ژړا به کله سرې شي

دا نمکیني اوښکې ګوډم
ترې ترې راته ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د زړهٔ غم پېټ دے ساتلے
دوئ بهٔ څهٔ تودې تودې شي

زهٔ خو هر چا ته دا وايم
زما هيڅ غمونه نشته

نو بيا زړهٔ مې داسې ولې
اندرون ذرې ذرې شي

چې د زړهٔ په رنځ اخته شوم
نو زهٔ پوهٔ شوم چې څهٔ چل دے

ممتاز اوس په دغه لوئ شوم
چې مې هر چا نه ګيلې شي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګیله دې په سر سترګو، دې ګیلې سره به ګورو
نن راشه د زړهٔ سره دې قصې سره به ګورو

راځه د رقیبانو په سر، تورې خاورې واړوه
راشه زما خواله، دې پښتنې سره به ګورو

زما روستا ترمینځه، د رقیب هره وخته کار نشته
خیر دے اے جانیه دې لانجې سره به ګورو

ماته د بیلتون د تورو شپو خبرې مهٔ کوه
اوس خو رڼا ورځ ده د تیرې سره به ګورو

خیال کښې مې د ورځې، او د شپې مې په خوبونو کښې
ممتاز درنه لوګے شه ستا وعدې سره به ګورو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ستا مینه لا لیه دروغژنه شوه
لا د محبت راته اغزنه شوه

څومره په اخلاص پاندې درغلی وم
هره یوه خبره ستا شکمنه شوه

تا پکښې ګړون د فریب وکړلو
څومره پاکه مینه وه خیرنه شوه

نهٔ زما زارۍ نهٔ مې منت منې
مینه دې لا لیه کبرژنه شوه

تهٔ خو په قدم قدم بې لوظه شوې
ځکه خو ممتاز دومره غمژنه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لور

مسته مسته ګرځې جونې وایه په کوم خیال یې ته
خاندې خوشحالېږې، د بابا د کور مشال یې ته

ته چې شوې پیدا نو هغه ورځ نه د بل چا وې ته
ته ښائسته کونتره یې، ناسته په دېوال یې ته

ستا طلبګاران خو جونې، هر ځای ستا په طمع دي
ځان نه خبر نه یې چې راګېره په کوم جال یې ته

ته د مور ملګرې د بابا د سترګو تور یې ته
ته د سپوږمۍ خور یې او پوره په خپل جمال یې ته

تا د بابا کور په خپل هنر باندې رڼا کړلو
څوک دي خوش قسمته چې د چا راوتې فال یې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ غیرت د دوئیو د بابا د سر شمله یې تهٔ
چرې سپکه مهٔ شې پهٔ رښتیا قیمتي لال یې تهٔ

تهٔ د پردي کور یې مور دې هر وخت پریشانه وي
تهٔ کهٔ پهٔ کودر یې یا ولاړه په دېوال یې تهٔ

څهٔ اوکړمه لوړې داد خدائے او رســـــول لاره ده
خدائے دې جدا مکړه خو جدا رانه في الحال یې تهٔ

تهٔ به شې واده زهٔ به دې کور کښې سودائي شمه
ګرځم به ټول کور کښې چې به لوړې پهٔ څهٔ حال یې تهٔ

تخت خو به زهٔ درکړمه خو بخت دې درله خدائے درکړي
شپه او ورځ مې خدائے ته ممتاز دغه بس یو سوال دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپې دَ انتظار

غمه نیمه شپه وه هر طرف چپه چپیا وه
دَ سمې ابادي نه جوړه شوې یو بېدیا وه

وعده يې وه د راتلو ځکه زهٔ وم په انتظار
یو زهٔ ومه پرېشانه یو زړګے دَه په درزار

ځان سره تکیا وَم هم کړل هم مې دېبل
ستورې په خندا وو خندېدل او مُسېدل

ډېره اوږده شپه وه په هېڅ رنګ نه تېرېدله
یوه یوه لمحه تکه د کال به ښه تېرېدله

زړګے مې په درزا شو څهٔ کښا مې واورېدله
ما وې جوړې هغه دے خوېشو وه زغلېدله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناڅاپه څوک ډېوه په لاس زما په لور راتللو
خدائیګو چې څوک نه وو اوږکے وه الوتلو

پرېوتمه کټ کښې څه بې ځانه غونډې ومه
زړه مې بې لوظې باندې حېرانه غونډې ومه

سترګو کښې مې خوب وه خوږ زړګے وه نا قرار
حېرانه وم چې څنګه به زړګے شي په قرار

په دې کښې مې نظر شو ستورې داسې پرقېدل
درې ورې ډېوې وې چې آسمان کښې بلېدل

سپوږمۍ مې تر نظر شوه پټه پټه خندېدله
ماته به ئې کتل نرۍ نرۍ به مسېدله

بې شمېره واړه ستورې ګېر چاپېر ترې تاوېدل
په شمعې د پتنګ غونډې ددې نه زارېدل

دنیا د سپوږمۍ کار دے لکه شمعه بلېدله
ما ورته کاته او خدائیګو خې دا مسېدله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما وې چې اے سپوږمۍ زما آشنا نه څهٔ خبرې
اے ښکلې سپوږمۍ دې وفا نه څهٔ خبرې

سره شوه پهٔ خندا او راته شوه دا مې ګويا نه
واوره د جفا او د وفا قصّه لهٔ ما سته

زهٔ هم پهٔ زړګي کښې ستا پهٔ رنګې يو ارمان لرم
زهٔ هم يو آرزو او تمنّا د تا پهٔ شان لرم

ستا کهٔ پهٔ زړګوټي مسيدلي پرهرونه دي
زما هم دا دي زړهٔ باندې يو څو سوي داغونه دي

ما هم د وصال پهٔ طمعه غرونه نسړولي دي
ما هم انتظار کښې د پرعمرونه اړولي دي

ما هم پهٔ دې لار کښې د پرې شپې شوګيرې کړې دي
ما خو دې نه سختې سختې هم لا تيرې کړې دي

ما د چا د پاره مُسپدل هم ازده کړې دي
ما د چا د پاره خندېدل هم ازده کړې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهٔ ترې خفه شوې مروره ترېنه تللې یم
دې دنیا نه لرې ډېره بره ترېنه تللې یم

چې زړهٔ مې صبر نهٔ شو آخر بیا ورله راغلې یم
اېښې ماته کوږې دادې بیا ورله راغلې یم

نوبت یې درا تللو نهٔ دے نو نهٔ راځي آشنا
خدائیګو چې ددې نه پس به خهٔ راځي آشنا

اے ممتاز اوده شه ټول فکرونه ستا عبث دي
مهٔ ژړېږه غم دې داغمونه دې هم بس دي

پهٔ دې کېنې یو نرۍ غونډې چپه دعوا راغله
سترګې مې شوې پټې پرکالې رابانډې راغله

او زهٔ چې شوم اوده نو دغمونو نه شوم خلاصه
ډېره ومه سترې دفکرونو نه شوم خلاصه

سحر چې شوم راویښه لوستومانه غونډې ومه
دے خپل سوې قسمت ته زهٔ حیرانه غونډې ومه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوبه

تهٔ چې جدا زمانه کرځې دا به څهٔ شي
جانانه ښهٔ به نهٔ شي که زهٔ درنه خفه شوم

زما د دوارو سترګو توره
دا بې لهٔ تا یمه شمکوره

ستا پهٔ لیدو مې د زړهٔ کلی خوره شي
جانانه ښهٔ به نشي که زهٔ درنه خفه شوم

ما وه ژوندون تا سره تړلے
اوس رانه کرځې جدا وے

ستا پهٔ جفا باندې مې ډېر زړګے خفه شي
جانانه ښهٔ به نشي کهٔ زهٔ درنه خفه شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ځوانی خو بیا نهٔ راځي جانه
ولې جدا کړې زمانه

چې مونږ جدا یو د غماز زړګی به ښهٔ شي
جانانه ښه به نشي کهٔ زهٔ درنه خفه شوم

ماته د زړهٔ په لار نژدې شه
غم مې شي لرې په دې پوې شه

تهٔ ماله راشه چې دا غیر غماز کچه شي
جانانه ښه به نشي کهٔ زهٔ درنه خفه شوم

ممتاز په دغه نهٔ پوهیږي
جانه ګیله دې په خړه کیږي

د مینې لار هسې نه نیمه لار کښې دوه شي
جانانه ښهٔ به نشي کهٔ زهٔ درنه خفه شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوبه

جانانه کله به راځې زړه مې ژړېږي
بې تا، نه قلارېږي لالیه کورته راشه

په ژړا ژاړم سود مې نه شي
بېلتون مې اولي په زړه غشي

دا بې لتا مې جانانه زړه کله صبرېږي
بې تا نه قرارېږي لالیه کورته راشه

ستا جدائي ده ډېره ګرانه
دنیا په ما باندې ده ورانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه باران غوندې مې اوښکې راڅڅېږي
بې تا نهٔ قلارېږي لالیه کور ته راشه

ستا د راتــــلو به څهٔ حاجت شي
د جنازې کټ مې چې اوچت شي

مړې بیا کله په ژړا راژوندې کېږي
بې تا نهٔ قلارېږي لالیه کور ته راشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فریاد

زهٔ به څهٔ درته بیان کړم
حقیقت به درعیان کړم

ژوند مې څهٔ رنګې تیرېږي
بس یو ږوی دے کمېږي

کله کله فکر اوکړم
خپل ژوندون ته نظر اوکړم

ما شوره ده چې تاوېږي
بس یو ږوی دے کمېږي

هر یو کس پهٔ دې دنیا کښې
ژوند تیرې پهٔ دې سودا کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې به هر څهٔ زما کېږي
بس یو پټې دې کمېږي

په چپا شنهٔ وختونه راشي
ټول غمونه ترې په شا شي

په هر څهٔ الله پوهېږي
بس یو پټې دې کمېږي

ممتاز دغه بس یو کار کړه.
غم د هر چا په ځان بار کړه

خدای په دغه خوشحالېږي
بس یو پټې دې کمېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شاهین

## د خپل زوئے کرنل ضیاء (جټ پائلټ) دے یادګیرنه

اے د شاهین بچیه ، اے د همت زویه
اے په رشتیا پښتونه، اے د غیرت زویه

اے د جذبې خاونده ، اے د هوا زمریه
د ارادې خاونده ، اے د فضا زمریه

ستا اراده پخه ده ، ستا اراده منمه
ده د جذبې نه ډکه ، دا ستا جذبه منمه

اے د شاهین بچیه ، د شجاعت تکړې
اے د طاقت نه ډکه ، اے د طاقت تکړې

اے د فضا زلمیه تهٔ د سیلۍ نه تېز ئې
اے د تېزۍ نه ډکه ته د تېزۍ نه تېز ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے د رفتار شاهینه ، دا ستا رفتار منمه
اے په رښتیا ښکاري ، زه دې دا ښکار منمه

قائله ستا د پنجې ، دا ستا پنجه منمه
نه چې خطا دې شوه ، دا ستا شوغه منمه

قائله ستا د جرأت ، دا ستا جرأت منمه
اے د شاهین بچیه ، ستا شجاعت منمه

زه دې غیرت منمه ، خو دا ته ناست څه لې
دا غلې پیلے غوښې ، دا سې ناراست څه له یې

ځنګا دې غونډ کړے ولې ، دا ته مدهوش ولې یې
زما تو رزنه زویه ، دا سې خاموش ولې یې

جو ړ په ارام بانډې ، ته عادت شوے یې ګڼي
په ډېر ناکام بانډې ، ته عادت شوے یې ګڼي

اوس خو د ښو ګیني هغه ، زړه تسمه نشته دے
اوس دې په سترګو بانډې ، هغه پرده نشته دے

اوس الوتلې شې ته، پره ختلې شې ته
پاس د هوا له پرده، لر بر وتلې شې ته

اوس ته آزادې شېرو، اوس ته خندا کولې شې
پاس د فضا په سینه، ته مشغولا کولې شې

چې څه دې زړه غواړي، هر څه آزاد کولې شې
خو که خپل ځان باندې، څه اعتماد کولې شې

پاسه یقین اوکړه ته، وزر نه کار واخله
د پاس فضا اووینه، نظر نه کار واخله

اے د فضا بنکارې، لاندې ټکړو ته ګورې؟
اے د شاهین بچیه، پاسې تیکو ته ګورې

ته څه ټپوس خونه یې، ستا نوم شاهین دے ګورې
دا د شاهین د پاره، د پرلوې توهین دے ګورې

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یادونه اُمیدونه

اے دمکي زمکي بیا رایاده شوي
بیا زما په سترګو کښې آیاده شوي

نن دَخدائے دکورنه ځان لوګے کړه ته
تاوُشه تري راتاوُشه چي نایابه شي

دا ساعت چي تېرشي بیا به رانهٔ شي
خلاصه به دغم هره فریاده شي

زهٔ د زړهٔ پهٔ سترګو کعبه وینمه
ولې زما سترګو ته حېرانه شوي

دا ارمان دهرمومن پهٔ زړهٔ کښې دے
تهٔ ممتان جوړ اوس ویځم لهٔ خوایه شوي

*

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتون

زهٔ د پښتون لور د پښتون خور د پښتون مور یمه
ځکه د پښتونه پښتنه د پښتون کور یمه
زهٔ د مینې پښکله خو دښمن د پاره اور یمه
زهٔ یم پښتنه لوګے لوګے لهٔ پښتون دور یمه

دا زما پښتون رو کې خو هر چا پېژندلے دے
دا چې د غیرت غرته دے ټول عمر ختلے دے
دا چې په پښتو کښې ټومره بره رسېدلے دے
دا چې پهٔ عزت باندې هر کور کښې زېږېدلے دے

دے چې اقرار او کړي بیا ترِ کله روستو کېږي نه
دے چې قدم واخلي نو بیا مخې خوځېږي نه
دے د همت ټوره ده پهٔ یو طرف چلېږي نه
دے همتي ځوان دے مصیبت نه خو وېرېږي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے د زور وجود دخپلو مشرلوئ طاقت کښي
دے دنور پروني دآسمان نه هم اوچت کښي
دے دپردی د مور عزت دخپلي مور عــزت کښي
دے دمور خدمت دمور دپښو لاندې جنت کښي

دے چې څهٔ وخت ځوان وی نو محفل به دځوروي دے
څهٔ وخت چې بوډا شي نو بیا مشر دجرګو وي دے
دحق سره منکرے هم دخپلو دپردو وي دے
دے داسې مخلص دے چې هر وخت دمشورو وي دے

سل کاروته ئې ښهٔ دي خو یو دائې بد عادت دے
دچا سره چې وران شي نو بیا دے لوئې مصیبت دے
نو بیا نهٔ بخلاکیږي پهٔ جرګو نهٔ پهٔ منت دے
هر څهٔ پهٔ سین لاهو کړي پهٔ یو دم پهٔ یو ساعت دے

دے پښتون دوکي ته زهٔ بس دومره نصیحت کوم
صبر نه کار اخله دوره زهٔ درته منت کوم
بیا به زهٔ قیصې دې پهٔ هرځائ دشجاعت کوم
زهٔ ممتاز به فخر دوره ستا پهٔ شرافت کوم

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نصیحت

ستا نیکي نهٔ ضائع کیږي
دا به هلته پکاریږي

څوک کهٔ دې باندې پوهیږي
دین دنیا به دې ښهٔ کیږي

نیت دې هر بنده ته ښه کړه
دا توبه د ځان سره کړه

مرګ نه پس به هم یادیږي
دین دنیا به دې ښه کیږي

مرګ نه پس خو هر څهٔ تېر شي
څوک چې تور لحد کښې ګیر شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به هلته کښې څهٔ کېږي
دین دنیا به دې ښهٔ کېږي

پهٔ دنیا کښې بس یو کار کړه
غم د مړ چا پهٔ ځان بار کړه

خدائے پهٔ دغه خوشحالیږي
دین دنیا به دې ښهٔ کېږي

خدائے انسان دے پیدا کړے
او پهٔ دې ئې دے پوهٔ کړے

پهٔ نیکۍ خدائے خوشحالیږي
دین دنیا به دې ښهٔ کېږي

ممتاز هر چا سره ښهٔ کړه
دا توخه د عقبٰی اوکړه

دا به هلته پکار دیږي
دین دنیا به دې ښهٔ کېږي

★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه چې پیدا شي فنا کیږي نه
ذره چې بندیوان شي آزادیږي نه

دا د غم تېرې څومره خورې شولې
اوښکې بلوم خو رڼا کیږي نه

اے داسمان ستورو په جرګه ورځم
یار مې مرور دے پخلا کیږي نه

څنګه دې ممتاز نه زړګے صبر کړو
نوک خو د اورې نه جدا کیږي نه

تا چې په سلګو سلګو کښې تېره کړه
ما نه خو دې خپله قصه هېره کړه

روس خو به خبر شي هر ځای کېږي نو
تا د راز خبره چې برسېره کړه

دا خو یو وړه غوندې خبره وه
تا هسې د لږې نه تن ډېره کړه

زهٔ درسره مینه په اخلاص کوم
تا مینه شکونو کښې راګېره کړه

ما وئېل په مرګ به جدا کېږو نه
تا مستاز د ژوند په لار کښې هېر کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مینه

دَ عشق سمندر کښې دَ مینې یو کشتۍ ده
موږ دواړه پکښې ناست یُو یو تیاښته سپینه سپوږمۍ ده

دا نن زما د پاره پرون نه ډېر بهشت دے
لالے مې څوا کښې ناست دے نرۍ یخه سیلۍ ده

دنیا نه نا خبره هر چا نه بې خبره
نهٔ کلے نهٔ مالت شته نهٔ کور نهٔ حویلۍ

دَ ګُل خوشبوئ چې ورشي بوراله په چمن کښې
تاویږي دَ ګلانو تیارهٔ کهٔ تروږمۍ ده

خمار خمار موسم دے دَ مینې رنتها ده
آواز د لوې راشي خوږه ښکلې شپېلۍ ده

ممتاز غمونه ورک شو لالے مې را روان دے
اوس خانده خوشحالېږه د غم وروستۍ سلګۍ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دکبر انتها ده ته پوه نه ئې
دا قصه بېګا صبا ده ته پوه نه ئې

مال دولت څو د لاس خیر دے ځان پوهے کړه
تا ترلې چې پرې ملا ده ته پوه نه ئې

محبت څو څوک په زور کولے نه شي
دا خبره د رضا ده ته پوهے نه ئې

راز د مینې خلق پټ ساتي نادانه
ته په هر ځائے کښې ګلیا یې ته پوه نه ئې

دخپل زړه علاج دې اوکړه ته په خپله
ممتاز ولې لا پروا ئې ته پوهے نه ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا چمن

زه یو ورځ ګلشن ته لاړم
ماوې سېل د ګلو کړمه

د بورا په شان به زه هم
هر یو ګل به ښکلومه

په چمن کښې ګرځېدمه
هر یو ګل ته ودرېدمه

شین چمن رنګ ګلونه
زما زړه وهل ټوپونه

خو یو کس د ګلو خوا کښې
ګرځېدو په دې سودا کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا ټول چمن زما دے
په هر ګل مې زړهٔ شیدا دے

کله ګل شوکئ له بوټې
وي د کبل لکه ډکې

کله پاڼې راشوکئ دے
هوا کښې الوزئ دے

په مستۍ دا سې روان دے
لېونے د بیابان دے

ناګهانه دا سې غبر شو
د مالي آواز برګ برګ شو

دا ته څهٔ رنګې بد بخت یې
ګل شوکے د هرې تختې

ما د زړهٔ وینې ورکړې
دا چمن مې اباد کړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چمن ځو د هر چا دے
هسې نه يو زمونږ ستا دے

د مالي په دې خبره
شوم خوشحاله د زړه سره

دا چمن زمونږ چمن دے
دا وطن ښکلے وطن دے

حفاظت به ئې کوو مونږ
هر آفت نه به ئې ساتو مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کیله

## دَ هغه تورسرې چې دَ چا دَ خاوند په قبر غوړېدلې

## څېرې لا هغسې تازه دي

کیله څو خدایه نهٔ کړم
یو خبره هسې کوو مه

زهٔ څو مره بد قسمته یم
چې به روښکې تل څڅومه

زما قسمت څو ښکاري
تورو شپو کښې دے لیکلے

دنیا څو نهٔ ښکارېږي
په تیارو کښې ژوند تېرومه

هر څو کهٔ زړهٔ ډاډه کړم
چې په صبر به وخت تېر شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غر نه روڅت غم دے
دا به څنګه زه سر کومه

د ځان ژړا خو نه کوم
دې څو ته خفه کیږم

ته صبر خدایه ورکړې
دوی به څنګه ځغل کومه

ما دا طمعه کوله
خوشحالي به چرې راشي

روښ څه رواېمه خدایه
چې د څه طمعه به کومه

شپه ورځ مې لوی خفګان دے
په حساب یې نه پوهیږم

د زړه زور مې روبه شو
نور طاقت به پېدا کومه

چاپېره ځان نه ګورم
په تیر وکنبې شومه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کومه ډډه ووځم
ځان به کوم خوا ته رسومه

درونه منګرے لارو
تورو خاورو کښې ورده شو

یو ځای شومه پیا تې
وس به د غه ژړا کومه

ځان ته به نه ګورم
ګله تا سره وعده کوم

دا ستا پر ښنې یا غیچه به زه
په صبر تازه کومه

د هر څه ته مالک ئې
خدایه تا ته مې دا سوال دے

بس ته مې مدد ووکړې
نور د هس طمعه نه کومه

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېګاه مې د آسمان ستوري په چپه خوله شمېرل
مطلب مې بل څه نه وُ، ومه ستا په انتظار

رقيب دې هر څه وائي زه تا نه نه صبرېږم
بس ته مې د زړه سر يې نور په چا نه کوم اتبار

د مينې په باغچه کښې مې يو ګل په نخښه کړی
اېږدم به يې په اوربل کښې يا جوړوم به ترې نه هار

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



# "زوې مور ته"

ستا د خوږې غولۍ نه زار شم مورې
ستا دعاګانو باندې بار شوم مورې

تا چې په څه خوارو لوئې کړې یم څه وېلې نشم
د ستا احسان زه په دنیا کښې خلاصولې نه شم

زه چې پیدا شوم نو په هیڅ نه پوهېدمه مورې
داسې نادان وم چې به هسې ژړېدمه مورې

په څه خوارو او په محنت باندې دې لوئې کړمه زه
په اشارو او په خبرو دې بیا پوهې کړمه زه

ته به وې وېښه ولې زه دې اوده کولم مورې
په پستو لاسو به دې زه ورو ورو ټپولم مورې

په زور قربان به دې د بدو منع کولم مورې
ځان دې کړولو ولې زه دې آبادولم مورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څومره خوارۍ څومره محنت دې ما سره کولو
زهٔ ښهٔ پوره شوم تا به بیا هم محبت کولو

مورې چې پوخ شومه زلمی شوم دا ګفتار کومه
ستا په خوارۍ او په محنت باندې اقرار کومه

مانه به داسې کار نهٔ کېږي چې خفه شې پرې ته
د ملک او قوم خدمت به کومه چې غره شې پرې ته

د خپلې خاورې به زهٔ داسې حفاظت کومه
زهٔ مقابله به د دشمن په خپل طاقت کومه

زما وطن ته به دشمن بره کتلی نهٔ شي
پښې به ئې ماتې کړمه دلته به راتللی نهٔ شي

زهٔ د مستان په پاکې غېږې دا سوګند کومه
دغه مې لوظ دغه وعده دغه قسم کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژوند په دې کتاب کښې نخښه کوم یو ځائے کښې کېږدم
زهٔ کومه پاڼه اولولم او کومه پکښې پرېږدم

په هره یوه پاڼه کښې جُدا دَ غم داستان دے
زهٔ کومه قصه اووایم او کومه پکښې پرېږدم

ددې نه خبر نهٔ وم چې به دا قِصه هم کېږي
زهٔ لا پرمه لاهو شومه اوس څهٔ به را وُچتېږم

زما قسمت دې خدایه په تیارهٔ کښې دے لیکلے
زهٔ څو رڼه تیندکونه نو زهٔ چرته قدم کېږدم

زما توره نصیبه په رښتیا د غم نه ډک یې
زهٔ څهٔ تدبیر اوس اوکړمه په چل یې نهٔ پوهېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره ستا د مینې د هر چا نه زه پټوومه
ستا مینه لوئ سوغات دے زه يې زړه پورې لګومه

دا مینه لوئ نعمت دے هم په دې دنیا جنت دے
ستا مینه چې مې مل شوه نور په هر څه اورلګومه

لا لیه مهربانه ته جدا مه شې له مانه
دا ستا د راتلو لار به په بڼو زه جارو کومه

نن را شه د زړه سره د هیچا نه مه کوه ویره
په طمعه درته نا ستړیم په زنه خال لګومه

ممتاز خو تبوله ستا ده ستا مینه کښې یې سودا ده
زه ستا د محبت خبرې کله چا ته کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر طرف چې ځي نو زه به ستا د لاس همسا شم
ما مه پرېږده يو اځې زه به ډېره وارخطا شم

بې تا خو زه ژوندون هېڅ و په ژوند نه حسابوم
ته ولې راته وايې چې زه پاتې تر سبا شم

رقيب زموږ تر مېنځه د نفرت لارې تړو کلي
د هر څه به صفا شي خو که زه د رنه پخلا شم

برباده زندګي ده، هېڅ په چل ئې نه پوهېږم
په کومه لاره ورشم او په کومه ترې نه راشم

ممتاز د اسې صادقه ده چې هر څه به هوا کړي
خو ته دې نيت صفا کړه چې زه پوهه په دنيا شم

خواره زاره زندګي شوه په غمونو په فکرونو
هسې ژوند لره خواري شوه په دې دومره تکليفونو

د غمونو په دلدل کښې نه د ځان نه د جهان شوم
هسې تېره مې ځواني شوه د دنيا په فريبونو

د سبا په طمعه ناسته، د ماښام تياره لانه ده
په ژړا مې سترګې سرې شوې، په سلګو په فريادونو

زه خپل فکرونه نه کړم، تا پسې مې زړه خوږېږي
چې ته څه رنګې لاهو شوې د اجل په دريابونو

په رضا د خداے رضا يم خو صبر سوال ترې کړمه
خدايه ته ناراضه مه شې زما په فريادونو

د بنده طاقت نه کوي، امتحان يې هومره اخلي
خدايه ما له طاقت راکړې په دې سختو ساعتونو

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**